پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۱۱/۰۸/۱۷

# کړنلاره که تګلاره؟

د هیواد دا اخیرنی څلور پنځه لسیزی لکه څنګه چی د راز راز ډراماتیکو سیاسی پیښو نه ډک ول، همدارنګه یی د پښتو او دری ژبو و سیاسی ادبیاتو ته هم د یو لړ نوو اصطلاحاتو و راوستلو ته لاره پرانیستل او ډیری نوی سیاسی اصطلاح ګانی چی لدی نه وړاندی یی دومره چلند نه درلود، را مخته کړی. په سیاسی ادبیاتو کی دا ډول نوښتونه تر لویه بریده په ځانګړی ډول د محمد ظاهر شاه د سلطنت په وروستیو لسو کلنو کی چی دا دوره د دموکراسی د لسیزی پنامه یاده شوی ده، منځته راغلی دی. پدی لسیزه کی د نوی اساسی قانون پر بنسټ یو نسبتاً زیات شمیر سیاسی جوړښتونو نړی ته سترګی پرانیستی چی اکثرو یی لا په ډیر ماشومتوب کی ددی فانی نړئ سره خدای په امانی وکړه او ځینو نورو یی و کولای شول چی د بلوغ سن ته ځانونه ور نژدی کړی. که څه هم یوه لا ددغو نه د پوره بلوغ مزه و نه کتل، خو که چیری د خلق دموکراتیک ګوند سیاسی واک ترلاسه کړی نه وای او دخپلی مرامنامی سره یی سم سیاسی مبارزی ته دوام ورکړی وای، دا چانس یی درلود چی د سیاسی بلوغ مزه و څکی.

د مرامنامی او اساسنامی د اصطلاح ګانو کارولوهم د دموکراسی د لسیزی را پدی خوا په سیاسی ادبیاتو کی ډیر رواج موندلی دی. ددی لیکنی نه می موخه دا نده چی د دومره اوږدو کلونو وروسته لوستونکو ته سیاسی درس ورکړم او دغه اصطلاح ګانی ورته تشریح کړم. د لیکنی اصلی موخه داده چی ددغو دواړو اصطلاح ګانو د پښتو اندول د اوسنی کارونی د پرځای والی او بیځای والی په هکله په خو لنډو کرښو کی دا خبره د لوستونکو سره یو ځای وڅیړم.

د مرامنامی د پاره اوسنی پښتو انډول چی سیاسی ګوندونه تری ډیر کار اخلی هغه **کړنلاره** او د اساسنامی د پاره یی **تګلاره** غوره کړی ده. خو سوال دادی چی ایا دغه پښتو انډول شوی اصطلاح ګانی پر ځای کارول کیږی او که بیځایه. داخبره می د ډیرو کلونو راهیسی د فکر پر اسمان د اوریځو پشان ګرځی راګرځی او کله ناکله خو می لا د ځینو سیاسی ګوندونو د مسئولو کسانو سره یاده کړی هم ده، خو هغوی لکه د سیاست په نورو برخو د عادت له مخی د پخوا پشان پر هغه پخوانی لاره په پټو سترګو روان دی او هیڅ ډول نوښت ته لا تر اوسه تیار نه بریښی.

یوه ورځ می محترم استاد پوهاند مجاور احمد زیار صاحب ته چی د کره او معیاری پښتو د پاره ډیر زیار کاږی، تلفون و کړ او تری نه می و پوښتل چی د کړنلاری او تګلاری اصطلاح ګانی چا او کله پښتو ته ور دننه کړی دی. ده راته وویل چی نژدی ۳۵ کاله پخوا کله چی موږ په پښتو ټولنه کی پدی هکله غور کاوه چی څنګه به و کړای شو د پښتو ژبی پر اوږو باندی د عربی اصطلاح ګانو بار تر یوی کچی را سپک کړو. پدغه وخت کی د نورو اصطلاح ګانو تر څنګ لکه **شکیلاک** (استعمار) او **زبیښاک** (استثمار)، د مرامنامی د پاره **کړنلاره** او د اساسنامی د پاره **تګلاره** د ښاغلی حبیب الله رفیع لخوا را وړاندی شوی چی زماهم خوښی او ورسره تائید می کړی، د هغه را وروسته دادی تر اوسه پوری دا اصطلاح ګانی په بشپړه پیمانه کارول کیږی.

ما ورته پدی اړوند خپل نظر داسی څرګند کړ: مرامنامه، برنامه او خط مشی په یوه مانا او ورته مفهوم کارول کیږی. **خط مشی** بیا د عربی **(خط المشی)** څخه دری شوی اصطلاح ده چی **(خط)** یی د مسیر، لین او **(لاری)** مانا ورکوی. دویمه برخه یی یانی **(المشی)** بیا د **(پلی تګ یا تللو)** مانا لری چی پدی توګه **خط مشی** په پښتو کی د تللولاره یا **(تګلاره)** سره انډول کیږی او دا شی هم هغه برنامه یا مرامنامه ده، نه اساسنامه. اساسنامه چی هلته د یوه سیاسی یا ټولنیز سازمان تشکیلاتی (جوړښتی) ځانګړتیاوی په ګوته کیږی، د خط مشی یا (تګلاری) سره په هیڅ ډول که هر څومره کوښښ هم وکړو، اړخ نه لګوی، هیڅ ډول ورته والی او انډول توب ورسره پیدا کولای نشی.

محترم زیار صاحب زما څرګندونی په غور سره واورویدی او په قناعت کولو سره د چا خبره پر شا و تکولم. دده وویل چی ربښتیا هم باید تګلاره د مرامنامی د پاره غوره شوی وای، خو هغه وخت هیڅوک هم و دی خبری ته متوجه نشو او اوس دا ګویا یوه پر ځای او منل شوی اصطلاح کټل کیږی، مګر و سمون ته اړتیا لری. ده راته وویل چی دی اوس د پښتو پر یوه نوی قاموس کار کوی او وعده یی وکړه چی دا تیروتنه په حتما هلته سمه کړی. مګر تر هغه وخته پوری پدی موخه چی تګلاره په نوی مانا سره دود شی، باید هر چاته چی ددغو اصطلاح ګانو د کارولو سره سروکار لری، ورسول شی اوهغوی باید پدی خبره پوه کړل شی چی د تګلاری سره د یوی مودی د پاره په قوسونو () کی مرامنامه او د کړنلاری سره اساسنامه و لیکی.

زه خو دادی د استاد د سپارښت سره سم ددغی لیکنی د لاری داخبره د اړوندو کسانو تر غوږونو پوری رسوم، مګر زه پخپله د اساسنامی د پاره هم کړنلاره یوه په زړه پوری او په ټوله مانا انډوله او مناسبه اصطلاح نه بولم. داځکه چی (کړنلاره) دیوه سازمان د جوړښتی ځانګړتیاوو ښودلوته د لغات او ریښو له مخی مناسبه اصطلاح نه ښکاری. داچی اساسنامه د سازمان جوړښتی پرنسیپونه په ګوته کوی او باید په پښتو کی هم داسی یوه اصطلاح ورته وکارول شی


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په خیر و لولـئ

لکه (جوړښتياوی، جوړښتلاره، بنسټونه) او يا کوم بل شی چی له مخی يی هدف په ګوته او له ورايه د ځرګنديدو وړ وی.

دا خبره هم د يادوونی وړ ده چی تر اوسه پوری يوازی سياسی ګوندی دی چی لکه د خپل کار په نورو برخو کی، پدی هکله هم د نووښتونو سره جوړتيا نلری. که ټول پښتو انټرنيټی سايټونه را پرانيزو، وبه وينو چی هلته په فهرست کی دوی د خپل سايټ مرام د تګلاری پنامه ياد کړی او تشريح کړيدی. نورو نوښتګرو ليکوالانو هم د تګلاری اصطلاح د مرام او کاری پروګرام په مانا کارولی ده، د بيلګی په توګه: « د افغانستان په هکله د اوباما نوی تګلاره »، « په ټولټاکنو کی حامد کرزی خپله راتلونکی تګلاره په نوی بڼه وړاندی کړه » او دا ډول بيشميره نوری بيلګی شته چی هلته تګلاره د مرام او موخی په مفهوم کارول شويده.

خدای دی وکړی چی محترم زيار صاحب دا ليکنه ولولی، که چيری زما او دده دتلفونی خبرو څخه ځينی ټکی زما څخه هير، زيات يا کم او ياهم ګډوډ شوی وی، هيله ده هغه راته سم او پدی اړوند په ټوليز ډول لا زياته رڼا پری واچوی. باور لرم چی دده ځرګندونی زما په پرتله پدغه باره کی ډير دروند وزن لری ځکه چی زه يو معدن پيژندونکی متخصص يم او دی په ژبپوهنه کی د ډيری لوړی ډګری درلودونکی متخصص دی. تر ټولو به لا ښه دا وای چی محترم حبيب الله رفيع هم دا ليکنه لوستی وای او خپل نظر يی پدی اړه ځرګند کړی وای. که بل کوم محترم وطنوال ددغی څانګی ماهر متخصص د لوړو ځرګندونو په وړاندی د تائيد او يا رد د پاره لا نور دلايل ولری، د هغوی څخه هم په درناوی سره هيله کوم چی ميډيا ته يی را وباسی او يا يی پدغه ايميل (nawzhm@yahoo.dk) را وليږی.

غواړم د فرصت نه په ګټی اخيستلو سره د اوسنی راجستر شوو ګوندونو د تګلارو (مرامنامو) په اړه هم څو کرښی يادوونه وکړم:

د هغو راجستر شوو ګوندونو تګلاری چی په يوه يا بل ډول زما پلاس راغلی دی، هغه می ځير سره لوستی دی. د خدای د حق خبره خو داده چی ډيری می خوښی شوی ندی، داځکه چی نه يی منځپانګه (متن) د نن ورځی غوښتنی ځرګندولی او نه يی بڼه د ژبنی ځانګړتياوو سره سم چی دا ډول يو مهم سند بايد په لوړو ادبياتو باندی وليکل شی، سمون درلود. د بيلګی په توګه دهغو ګوندونو تګلاری چی د خلق دموکراتيک ګوند جزيری ګڼل کيږی، ان د نوموړی ګوند د هغی مرامنامی په پرتله چی نژدی ۴۵ کاله پخوا په ۱۹۶۶ کال د خلق د جريدی په لومړی ګڼه کی نشر شوه، د منځپانګی او بڼی له مخی د سيالی وړتيا نلری (په هغه وخت کی ددی سازمان ټول غړی تر ۵۰۰ تنو لږ وو). په هغه مرام کی د وخت نژدی ټولو غوښتنو غبرګون موندلی وو او په لوړو ادبياتو سره ليکل شوی وو. داچی د واک د ترلاسه کولو وروسته پاملرنه ورته و نه شوه، زما په اند دا يوه لويه تيروتنه وه. دشوروی تر شکيلاک وروسته خو اصلا دموکراتيکو پرنسيپونو او دهغه وخت برناموی غوښتنو خپل مفهوم د لاسه ورکړی وو، په پيل کی د يوی سوسيالستی ټولنی د جوړيدو د پاره تياریٔ نيول کيدی او په وروستيو کلونو کی د افراط تر کچی ښیٔ خواته روان ول.

د اوسنی ګوندونو د برناموی نيمګړتياوو تر ټولو لوی لامل زه پدی وينم چی دا برنامی يوازی د يوه او يا هم ندرتا د يو دوو تنو د فکر زيږنده ده. د يوه سياسی ګوند مرامنامه تر ټولو مهم سند دی چی له مخی يی سيال ګوندونه يو له بله سره پرتله کيږی. هغه برنامه چی په سياسی ډګر کی د سيالی وړتيا و نه لری، اړوند ګوند به تل مخ پر کښته روان او په سياست کی به هيڅکله هم کومه لاسته راوړنه ونلری. سياسی برنامه بايد د يوی داسی پياوړی ډلی (کميسيون) په مټ جوړه شی چی د برنامی هر برخه (سياسی، اقتصادی، اجتماعی او نور) د اړوندو چارو د ماهرانو له خوا وليکل شی. وروسته بايد دګوندی سازمانونو نظر غوښتنی ته وړاندی او بيا د نوموړی کميسيون لخوا غور ور باندی وشی. لدی نه وروسته و يوه اديب ته سپارل کيږی چی تر وسه وسه يی په ستندرد ژبه او ښکليوادبياتو وليکی او په پای کی بايد په حقوقی چارو کی کوم بلد څوک هغه په حقوقی ژبه واړوی. دا حتمی نده چی د ګوند په مشرتابه کی به دا ټول متخصصان غړيتوب ولری. پدی کار کی کيدلای شی د نورو کادرونو او ان د ګوند د مينه والو څخه هم مرسته وغوښتل شی او ان کيدلای شی د حق الزحمی په مقابل کی دا کار د هغوی په مټ تر سره شی، مګر د کمزوری برنامی درلودل په هره بهانه چی وی، د يوه سياسی ګوند په ګټه ندی او اړوند ګوند د نورو سيالو ګوندونو په وړاندی کمزوریٔ ښئی. داخبره می و يوه ځانګړی ګوند ته ګوتنيونه نده بلکه په ټوليز ډول وهغو ټکيو ته د سياسی ګوندونو پام را اړول غواړم چی ددوی دسياسی وړتياوو په جګولو کی اړين توکی دی.

که کعبی که بتخانی ته تګ و پوی کړم
زمــابی د يار له مخــه مقصود نـشـــته
(حميد ماشوخيل)

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ